ACKU
S 1789

وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

# شهادت

(۸) صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

## په پروان کي دملحد رژيم قواوي وځپل شوي

پروان دوري لمړي نيټه :
په وارسيدلي ريپوټونو کي ويل شوي چي دپروان ولايت مؤمنو مجاهدينو دتير کال دکب دمياشتي په شلمه نيټه دشمالي په لويه لاره کي دپروان ولايت دجنگل باغ په سيمه کي دږژيم پرقواوو باندي يولړعمليات ترسره کړل چي دهغي په ترڅ کي دوولس تنه مليشيا اوعسکروژل شوي اويوشمير نورټپيان شوي.
ريوټ زياتوي چي په دغه بريد کي دږژيم دقواوو څخه ځلورعرادي نظامي باروړونکي موټرونه اويوزغره وال ټانک ويجاړشوي.
په يو بل خبر کي راغلي دنوموړي ولايت مجاهدينو دکب دمياشتي په ۱۶ نيټه په دوو بيلابيلو بريدونوکي چي دملحد رژيم پر قواووباندي يې کړي دي دږژيم دوه عرادي زغره وال ټانکونه او دري عرادي پوځي گاوي ويجاړ کړي او شپږ تنه عسکريې وژلي دي.
ريوټ کي دا هم راغلي چي نوموړي لويه لاره دمجاهدينو له خوا ددوو اونيو راپه دي خوا دترافيکو پرمخ بنده اوځگره دمجاهدينو اوملحد رژيم دعسکرواومليشو ترمنځ په تندي سره روانه ده .

## الهي لارښووني

اي هغوخلکو! چي ايمان موراوړي ،اسلام ته پوره پوره راننوځي ، اودشيطان پيروي مه کوي ، چي هغه موځرگند دښمن دي.

البقره ۲۰۸

شماره مسلسل (٤٥٥)سال پانزدهم شماره (۱) يکشنبه ۲ حمل ۱۳۷۱هـ ش ۱۹ رمضان المبارك ۱٤۱۲هـ ق (۲۲) مارچ ۱۹۹۲م

# نجيب دعبوري حکومت له جوړيدووروسته دځپلي استعفی اعلان وکړ

(۸مخ )

## دسودان حکومت پرياغيانو باندي يوه ستره حمله پيل کړه

بروبي : دکب ۳۰ نيټه.
ريوټونه وايي چي دسودان دحکومت ...کرو د هغه هيواد پرجنوبي ،باغيانو ...ي يوه توي حمله پيل کړي ده .
داحمله چي دسودان په جنوب کي ...ي شوي ، دنايروبي مقامات وايي حکومتي قواوي په وسلو مجهزي دي ...غيانو مواضعو ته نيږدي کيږي.
ريوټونه وايي چي دغه بريد ترټولو لوي بريددي چي په روان کال کي ساري نه لري.
ريوټونه وايي چي ځولي امدادي الوتني دسودان جنوب ته بندي شوي دي. اودملگروملتونو کار کوونکي او دبشري مرستو ټول کارکونکي دڅهار شنبي دوروځي راهيسي له دغه ښار نه راويستل شول.

## گردهمايي رهبران جهادي دردفترجمعيت اسلامي واقع چمکني پشاور

سکرتريت - ۱ر۱ر۱۳۷۱ :
گزارشات حاکيست که جلسه يي به اشتراك رهبران جهادي بروز شنبه مؤرخه ۱ر۱ر۱۳۷۱ دردفترجمعيت اسلامي واقع چمکني پشاور تشکيل گرديدکه درآن رهبران مجاهدين هريك برادر انجنير حکمتيار اميرحزب اسلامي افغانستان ، استادسياف اميراتحاداسلامي ، استاد برهان الدين رباني اميرجمعيت اسلامي ،

(ص ۸)

## مومنومجاهدينوپه لشکرگاه کي دخاد مرکز وځاپه

هلمند :
د ۱۳۷۰ هش کال دکب دمياشتي په ځلورويشتمه نيټه دهلمند ولايت مؤمنو مجاهدينو دبوناځايي پلان شوي بريد په ترڅ کي چي پخپلو درنو وسلوبي دلښکرگاه ښار دواد په مرکز اودمليشه دقوماندان جنرال جبار په کور ترسره کړ ، ۲٦ تنه منصبداران عسکر اومليشه بي ووژلي ، ١٤ تنه يي ټپيان کړي او يو شمير پاخه اوټينگ سنگرونه يي تخريب کړيدي.
مبديا زياتوي چي دمليشه و قوماندان جنرال جبار دهلمند او کندهار ولايتونو په سرحدي سيمه کي دمليشو پوستي جوړ کړي چي دخلکو مالونه لوټوي ... په همدي خاطر گوداگي رژيم ورته دجنرالي رتبه ورکړه .

## پوسته های امنيتی ولسوالی های بلخ دولت آباد ، چمتال وکمربند امنيتی شهرمزارشريف بەتصرف مجاهدين درامد

راپورهاي واصله ازولايت بلخ حاکيست که جنگ بين طرفداران دولت ومليشه هاي رشيددوستم به شدت جريان دارد، درخبرعلاوه گرديده که مجاهدين حزب اسلامي با استفاده ازفرصت بامجاهدين تنظيم هاي ديگرمتحدانه برپوسته هاي امنيتي دولت درمزارشريف وتوابع ان حمله نمودند که درين حمله پوسته هاي خط اول دفاعي ولسوالي هاي بلخ ، دولت آباد ، چمتال وکمربند مزارشريف به تصرف مجاهدين درآمده ، همچنان به تاريخ ۲۸ ماه حوت سال گذشته يك کندك حلقه جري شولگره به قرارگاه وحدت تحت آمريت عبدالسلام عبقري تسليم گرديده است . ومقداري زيادي اسلحه خفيفه وثقيله توسط مجاهدين به غنيمت گرفته شده است .
قراريك خبرديگر شهرمزارشريف به تصرف مجاهدين درآمده مگر منابع موثق اين خبرراتائيد نکرده است .

## عکس العملهاي رهبران سياسيدر قبال شايعه استعفاي نجيب

اخيرا داکترنجيب رئيس رژيم پوشالي کابل اعلان نمود که وي حاضر است پس ازتشکيل يك حکومت مؤقت ازعهده اش استعفا بدهد. ، درقبال اين موضوع رهبران تنظيم هاي جهادي وشخصيت هاي پاکستاني وجهان اظهاراتي را ارائه نمودند که فشرده آن تقديم مي گردد.
برادر حکمتيار امير مجاهد حزب اسلامي افغانستان درزمينه گفت حالا رئيس رژيم کابل جز استعفا چاره يي ديگري ندارد ، زيرا اوکنترولش را برافغانستان کاملاً ازدست داده است.
استا دبرهان الدين "رباني " رهبرجمعيت اسلامي درين موردگفتند اعلان استعفاي نجيب پس ازآن صورت گرفت که مجاهدين شهر مزارشريف را فتح نمودند . استاد عبدالرب رسول سياف رهبراتحاد اسلامي درقبال اين موضوع گفت حال نجيب ميداند که ديگر روز هاي قدرت اوبه شماراست واوديگر اصلاً (توان) اوضاع بهتر را ندارد.
برادر مولوي محمد نبي " محمدي "

(ص ۸)

## شش فلسطيني دراثناي تيراندازي اسرائيلي ها به شهادت رسيدند

تل ابيب - ۳۰ حوت :
سازمان آزادي بخش فلسطين درمورد محاصره نوار غزه توسط نظاميان اسرائيلي وکشته شدن شش فلسطيني در دو روزاخير به سازمان ملل متحد شکايت کرده است . بنابر ادعاي سازمان آزادي بخش فلسطين ،اين شش تن در اثناي تيراندازي سربازان اسرائيلي به هلاکت رسيده اند ، وفلسطني ها ميگويند که اقدامات اسرائيل با قوانين بين المللي مغايرت دارد. ديروز بدنبال محاصره نوارغزه زدوخورد هاي ميان فلسطيني ها ونيروهاي نظامي اسرائيل رخداد سخنگويان ارتش اسرائيل گفته اندکه بدنبال قتل دواسرائيلي در تل ابيب که روز سه شنبه صورت گرفته تصميم گرفته شد که منطقه غزه محاصره شود که امکان برخورد ساکنان آن منطقه با اسرائيل ها کاهش يافت .

## والي سمنگان به مجاهدين تسليم گرديد

راپورهاي واصله ازولايت سمنگان حاکيست که به تاريخ اول حمل سال جاري والي سمنگان همراه سي نفرافرادامنيتي اش با دوعراده تانك ، سه عراده موتر و۲ ميل دافع هوا به مولوي محمدظاهردرمنطقه دره زنداك تسليم شده اند .
درخبرعلاوه گرديده که فعلاً کنترول شهريه دست کياني هامبباشد . اميداست که درروزهاي نزديك مجاهدين به پيروزي نهايي برسند .

## مجاهدين بايد دافغانستان دکشالی دحل لپاره په يوگډفورمول متحدشي

د ۱۳۷۰هـ ش کال دکب دمياشتي په ديرشمي نيټي دآريانه دفترکي يوي جوړي شوي غونډي ته دپاکستان دجماعت اسلامي اميرقاضي حسين احمد دخپلي يوي وينا په ترڅ کي له مجاهدينو نه غوښتي چي دافغانستان دکشالي دحل اوديواسلامي حکومت دجوړيدو لپاره په يوگډ فورمول متحدشي .
ده دملگروملتونو دسولي پلان ردکړ وبي ويل چي داعملي نده اويدي سره په افغانستان کي دامن راوستلو امکان نشته ، ځکه چي په دغه طرحه کي دوطن کمونست گوندگډون غوښتل شوي چي داکارهيڅ کله هم مجاهدينوته دمنلو وړندي

(۸مخ )

## کندك خدمات رژيم مزدوردر ولسوالي آقچه بدست مجاهدين فتح گرديد

جوزجان
بتاريخ ۲۳ حوت ۱۳۷۰ هـ ش مجاهدين مؤمن ودلير ولسوالي آقچه ولايت جوزجان دست به يك سلسله عمليات تعرضي وتصفيوي عليه دولت ملحد زدند که درنتيجه آن کندك خدمات علاقه داري فيض آباد ولايت متذکره بدست پرتوان مجاهدين فتح گرديد.
مبديا به نقل ازيك منبع جهادي گذارش ميدهدکه بافتح اين مرکز بزرگ ومستحکم دشمن ملحد يك عراده تانك زرهي يك بطريه دافع هوا - يك عراده موتر جيپ و ۷۰۰ ميل سلاح خفيفه بدست مجاهدين قهرمان غنيمت گرديده است.

## تاتارها برخلاف ميل يلتسين رفراندم رابراه انداختند

تاتار ستان - ۳۰ حوت.
تاتارستان درمنطقه درياي وال گاي روسيه امروز شنبه يك رفراندم را درموردحاکميت اين منطقه داير مينمايد.

(ص ۸)

## په ارجنتاين کي داسرائيلو سفارت والوزول شو

نړيوال آژانسونه خبرورکوي چي په ارجنتاين کي داسرائيلو سفارت ديوه موټربم چاودني له امله له خاوري سره سم شو په دغه چاودنه کي چي تيره ورځ وشوه په سلگونوتنه ټپيان شويدي، دمړوتعداد ۳۰ تنوته رسيدلي دي له دي جملي څخه ددواسرائيلي سنځومړي هغه هيوادته رسيدلي دي .

## نجيب دمجاهدينو له مشرانو اودپاکستان له صدراعظم سره دمخامخ خبرواترو غوښتنه کړي ده

اسلام آباد :
په اسلام آبادکي دکابل گوداگي رژيم ناظم قدرت الله احمدي ځرگنده کړه چي دجمعي په ورځ (۳۰ر۱۲ر۱۳۷۰) يي له کابل نه دنجيب يوپيغام ترلاسه کړي پدي پيغام کي نجيب دمجاهدينوله مشرانو اوهمدارنگه دپاکستان له صدراعظم محمدنوازشريف نه غوښتي چي هغه دمخامخ خبرواتروليپاره ومني .
قدرت الله احمدي وويل چي دنجيب دکابيني له ديرشو وزيرانوڅخه يواځي پنځه تنه خلقيان اوپرچميان دي پاتي ټول يي طرفه کسان دي اوهلته اوس کمونيستي ولي دچپ ديموکراتيك اتحاد ترنامه لاندي په يواتحادکي راټول شويدي .
سياسي کتونکي ځرگند وي چي نجيب په ديپلوماتيکي ډگرکي تل درواغ ويلي اودده يوه خبره هم سمه نده ځکه دهيلگي په توگه دده ملي مصالحه په عمل کي له غيرانساني اعمالونه نورڅه نه وو .
دغه کتونکي زياتوي چي نجيب غواړي دخلکو په سترگو کي په ډيري بي شرمي سره خاوري واچوي او ټول کمونست وزيران اوس دوطن پارټي غړي نه بولي، پداسي حال کي چي داوزيران يادنورو کمونيستوپارټيو غړي دي اوياهم دخاددشبکي جاسوسان دي .
دمجاهدينو منابعو تل دنجيب داراز وړاندېزونه په کلکه سره ردکړي دي . نجيب پدي بدل غواړي چي نړيوالو ته داوښيي چي دي دسولي پلوي دي .
خومجاهدين اونړيوال نه هيڅکله هم هغه ته سياسي ارزښت اوکريدت ورنکړي .

## په برماکي مسلمانان ترسخت ظلم اوفشار لاندي ژوندکوي

دکب ۳۰ نيټه :
دامريکا جمهوررئيس بوش ديرمادپوځي رژيم داعسالو په باب چي پنځگله ديش ته دزرگونو مسلمانو مهاجرينو دتگ سبب شوي خواشيني ښکاره کړي او دنوموړو مهاجرينو سره دمرستي له پاره دبنگله ديش دمقاماتوسره د دري مليونومرستي وعده کړي .
دسپيني ماڼي دغه بيانيه دبنگله ديش دصدراعظمي بيگم خالده ضياسره دخبرواترونه وروسته چي دامريکي څخه کتنه کړي شوي ده .
په يوبل خبرکي ويل شوي چي دملگروملتونوسرمنشي بولوورته مقام برمانه لېږي دبشرددحقوقو اونړي والي عفوي سازمان واي مهاجرينوويلي چي په برماکي خلك اجباري کارنوته مجبوره کيږي ، سکنجه ورکوله کيږي، جنسي تيري ورباندي کيږي اوکله ، کله دمرگ ترسرحده وهل کيږي .

## اسرائيلي مقاماتو دغزي نيول شوي سيمي ته په تگ اوراتگ بنديزلگولي

تل ابيب - دکب ۳۰ نيټه :
داسرائيلو پوځي مقاماتو دغزي نيول شوي سيمي ته ترنامعلومي مودي پوري تگ راتگ بندکړي .
دغه پريکړه ددي معني لري چي ددغي سيمي ددوو نيمولکو اوسيدونکو فلسطينيانو څخه په يوتن هم ونشي کولاي چي ترېلي خبرتياپوري دهغه ځاي څخه ووځي .
دخليج دجگړي نه راپه دي خوادالمړي واردي چي داسي يواقدام کيږي چي په اسرائيلو کي خپلوکارونوته دزرگونو کارگرانودتگ دمخنيوي سبب کيږي .
ويل کيږي نوموړي اقدام داسرائيلوپه نظر دهغوي پرضد داسلامي بنيادگرو دمبارزي په مقابل کي يوعکس العمل وي نوموړي اقدام په بونس ايرس کي داسرائيلو په سفارت کي ديم دچاودني، په ترکيه کي ديوه اسرائيلي ديپلومات وژل کيدل اوداسرائيلو په دننه کي ددريواسرائيلي سربازانو دوژلونه وروسته شوي دي .

## سر مقاله

بنام نقطئيکه بر انطره مخبرباز نقابت ملهم آمد

## عاقبت حزب کمونست وطن پس ازاستعفاي نجيب

روزچهارشنبه بيست وهشت حوت ". ۱۳۷" نجيب مزدوروطي بيانيه يي آماده گي خويش رابه استعفي بعداز تشکيل حکومت انتقالي اعلام داشت . به نقل ازراديوي کابل وي اين تصميم راپس ازمذاکره باوزرا ، فرماندهان اردو، قاضي القضات وسائر مقامات عاليرتبهٔ رژيم اتخاذ کرده است .
اکنون اين سوال پيش مي آيدکه چرانجيب درشرايط کنوني چنين تصميمي گرفته است وآينده اوورحزبش درافغانستان چگونه خواهدبود ؟
دستگاه هاي خبري غرب ميخواهند چنان وانمودسازندکه گوياتلاش هاي سازمان ملل که توسط آقاي بنين سيوان صورت ميگيرد موفقيت آميزبوده ونجيب راواداشته تاچنين تصميمي بگيرد اماحقيقت امرآنست که درشرايط موجوده نجيب يگانه راه نجات خويش رادرهمين تصميم مي بيندلذاباتمام قوت ميخواهدکه آنراعملي سازد.
بنين سيوان نمايندهٔ خاص سازمان ملل تاکنون چندباربه ...اکستان ، کابل، ايران وسعودي سفرهاي داشته اماطوريکه آشکاراست طرف اصلي اين قضيه يعني مجاهدين تاکنون اين طرح رابه شدت ردکرده اندزيرااين برنامه واضحا جهت حمايت ازمنافع وموقف رژيم کابل که اکنون آرزو وهدف استعمارغرب ميباشد طرح ريزي گرديده است .
يك حقيقت ناقابل انکاردرحيات ننگين حزب دموکراتيك خلق وبه تعقيب آن رژيم مزدور اينست که کمونيست هاهيچگاهي به خودمتکي نبوده اندزيرادرميان مردم افغانستان پايگاهي ندارند وروي چنين دليلي ايشان نتوانستندتازمان موجوديت شوروي توسط سيل کمك هاي ايشان به حيات نيمه جان ادامه دهنداماا کنون که شوروي ازميان ...فته پاي رژيم مزدورنيز به لب گوررسيده است زيرا مليشه هاي که ...وسط مقادير هنگفت پول به نفع رژيم مزدورمي جنگيدند درحال ...رك گفتن آن ميباشند، مواضع رژيم مزدوردرشمال کشوريکي ...بعديگري سقوط مي کند واين درحاليست که مجاهدين تصميم ...رندبااشغال شهرکابل اين دسته دزدان وطن فروش رابراي هميشه ...گيتي محوونابودنمايند للذا نجيب چاره يي نداردمگرآنکه بخواهد ...ستاويزطرح سازمان ملل وبه کمك استعمارغرب ازيك طرف ...دراازمرگ نجات دهدوازسوي ديگربتواندرآيندهٔ افغانستان براي خودجاي پايي بدست آوردوگرته عنوان کردن حفظ وحدت ملي کشور ازطرف نجيب مزدوروحزب وطنفروش آنقدرمضحك است که بايد متحيث لطيفه براي اطفال بازگوشود زيرا همين نجيب وباندديموکراتيك خلق بود که کشوررايك سره به روس ها فروختند .
اکنون مي پردازيم به بررسي اين نکته که آياانجيب اندواوخواهندتوانست درآينده سياسي کشورحضورداشته باشند .
اصولا تلاش هاي غرب که زيرپوشش تلاش سازمان ملل بنام حل

ص (۷)

## دښمنان داسلام دستربلاك اواسلامي خلافت دجوړيدو نه په ويره کي دي

## بهار خون

ذبیح الله "قریشي"

بازازتپه' وطن ، لاله' خونین تن که سرخي خون شهیدان عزیزمیهن رابه دامن گرفته وداغ سینه' سوخته' مادران پسرگمشده رادرجگردارد، دمیده است ، تاپیام آزادگي آزاد مرداني راکه مشعل آزادي را برافروختند وباخون گرم خویش سنگرهاي جهاد ومقاومت راتاکنون جوشان نگهداشته اند، به صف رهروان خط سرخ شهادت بخواند .

بازلاله سرخ شهادت ازآرامگاه کشتگان بیگناه وطنم که به آرزوي نجات کشور ازتسلط کفر وکمونیزم وآزادي انسان ازقیدانسان وضوي خون ساخته اند ، سرکشیده تابه همسنگران وفامندش میثاق خون را تازه کند وهوشداربدهدکه خلافت اسلامي بجز با دستهاي مجاهدوباریزش خونش ، هرگزدرمغاك ظلمت زده' وطن نخواهد درخشید .

آري، همانطوریکه قشون وحشي شکست ناپذیر(!) سرخ باضرب شمشیر ومقاومت خون ، شکست وبساط ننگینش نه تنها ازکشورم بلکه ازسراسر گیتي چیده وباداس وچکش ستم یکجابه زباله دان تاریخ مدفون شد، با اذناب فرومایه ومکارش که کنون یکجاباپست فطرتان غربگراجبین به آستان قصرنشین سپید (بش ) مي سایند، ازهمان جاده رفت وبا همان شمشیرمعامله کردکه بااربابانش صورت گرفت .

زیرا : این وحشیان ستمگر که دستان گنه خیزشان باخون فرزندان وطن رنگ است ، بجز زبان آهن وآتش ، زور ومقاومت نمي دانند، ورنه جاي آن داشته وداردکه ازگذشته ها نادم گردیده وبه آغوش ملت بارحم که فرصت براي ایشان داده است ، برمي گشتند وازلجاجت دست مي کشیدند .

گرچه سال پار، سال به ثمره نشستن خون شهیدان وطن که منجربه انهمارامپراطوري کمونیزم به پانزده جمهوریت جداگانه باانديشه پوچ مارکسیزم ، لیننیزم وفتح اکثریت مناطق استراتیژي رژیم کابل بدست سپاهیان دلیر اسلام گردید، ولي دشمن خفته ودیرینه دیگر سربلندکرد وعلناًبرضدمجاهدین عزیزما دست به جنگ اعلان ناشده زد ودرراه' پیروزي نهایي جهاد موانع ومشکلات جدید آفرید .

سال پاراگرچه سال پیروزي هاي چشمگیرشهسواران سلحشور که پوزه' دشمنان رابخاك ذلت مالیدند، بود، اماهمال توأم بادسائیس وتوطیه هاي جدید به دست یاري سازمان ملل علیه ملت مظلوم ورنجکشیده' ما بشمارمي رود که دراثراین توطیه ها بعضي به دام دشمن کشیده شده ، نقاب ازچهره هاافتاد، حقایق برملاگشت ودشمنان جهادومقاومت آشکاراترا!

بلي، باوجود همه دسایس وتوطیه وستمگري ستمگران ، مشعل بدستان آزاده ، سنگرهارا باآتش جهاد، فروزان وباخون، گرم نگهداشتند . مناطق مهم واستراتیژیك را ازلوث دشمنان دین ووطن پاك نموده ، چراغ آزادي رابر افروختند وسال پار راتوأم باپیروزي مسلمین وشکست دشمن درتمام ابعاد پشت سرگذاشتند . بهارامسال که چون سالهاي پاررنگ خون دارد ، لله الحمد اولین روزآن چشم به پیروزي سنگرنشینان عزیز اسلام گشاده وبه سینه سوختگان کوپرنشین هجرت نوید فتح ام البلاد را زمزمه کرد .

امیدواریم بهارخونین سال نو باقطع دست هاي استکبار ، افشاي هرچه بشتر چهره' دشمن ، پیروزنهایي ووحدت رزمندگان عزیز اسلام وتنظیم هاي اصیل جهادي که نوید دهنده' بهار جاویدان (حکومت اسلامي ) است بیانجامد. تابهارپیروزي رادرکشور عزیز خویش بااخوت ، برادري همکاري ، همدلي وبرابري زیردرفش توحید جشن بگیریم .

آمین.یارب العامین

## دمنځ مهالي حکومت دجوړیدوپه صورت کي دنجیب استعفي ، ابتکارکه مجبورتیااوسازش

قلم محمد قایض

د ۱۳۷۰ لمریز کال دکب میاشتي په اته ویشتمه نیټه دنړي راډیوگانو ظاهرا یونوي اوته باورېدونکي خبرخپورکړچي هغه دملگرو ملتوپه منځگرتوب دافغان رهبري داواري په لړکي دمنځ مهالي حکومت دجوړېدو په صورت کي دکابل حکومت دجمهوري رياست نه له استعفي سره نجیب موافقه وه . نجیب پخپله یوه راديو، تلویزیوني وینا کي داوویل چي هغه دافغان مسألي دحل لپاره ملگروملتو دسرمنشي دخانگړي استازي بینن سیوان سره تفصیلي کتنه کړي اوموافقه يي کړي ده چي دعبوري حکومت دتشکیلیدو سره سم به له خپلي دولتي دندي نه استعفي وکړي ، هغه داهم وویل چي گواکي ددي گام په پورته کولو سره به جوته کړي چي دسولي دراتلوپه لارکي يي ستره قرباني ورکړي ده اودايي هم وویل چي عبوري حکومت باید په هیواد کي دامنیت دتأمین اودهیواددخمکني بشپړتیا دساتلو قابلیت ولري .

که څه هم بنايي ملگري ملتونه دخپلي ناروا پنځه ټکري طرحي دتطبیق په لارکي دنجیب داڅرگندونه په نیك فال ونیسي، خودنجیب دادول څرگندوني زموږمجاهدولس ته داعتبار اواهمیت وړنه دي .

نجیب په افغانستان کي کومه نوي اوناپیژندل شوي څیره نه ده . نجیب په افغانستان کي دڅورترکودتالا دمخه زموږ خلکوارپه ځانگړي توگه تعلیم یافته حلقودروسي امپریالیزم دیوه سرسپارلي مریي اواسلام دښمن عنصرپه حیث پیژانده . له اسلام هیواداوهیوادوالو سره دنجیب دښمني دومره ښکاره ده چي فکرکوم پدي باب به څه زیات استدلال ته هیڅ اړتیا نه وي . نجیب چي خپل دخادریاست په دوره کي څومره مسلمانان له تیغه تیرکرل ټولوته څرگنده ده .

داچي نجیب دروسانو تروتلو وروسته وخت پروخت پخپله پالیسي کي څه بدلونونه راوستي دادهغه یوه طبیعي ارتیاوه څکه دافغان جهادله برکته دسري امپراتوري پايي ولړزیدي اوزړه کیسه شوه تونجیب لاخوك و. نجیب یالنجیبیان خوچي په څه تازیدل هغه دسري بلا يي بيي مرستي وي، خوکله چي سره امپراتوري عملا له منځه ولاړه اودنجیب هیلي نوري په تهیلي بدلیدي طبیعي وه چي باید پخپلو پالیسیو روان فکري اونظریاتي دریځونوکي يي څه بدلونونه راوستي واي. په اسلام تظاهرديیرغ بدلول ، دسولي پیشنهادونه اودي ته ورته خبري يي بوازي اوبوازي دخپل سیاسي پایښت

اوخلکوډغولولو لپاره کولی. نجیب په دې، پوه شوچي داسلام له نامه اخستلوپرته پرافغانستان حکومت کول ناممکنه اوناشوني خبره ده نوځکه خولي دقرآنکریم څیني آیتونه اوهمدا ډول څیني احادیث هم یادکړل چي پخپلو خبروکي دخپلي اسلام دوستي دثبوت لپاره تري کارواخلي مگرهیچاهم دنجیب په خبرو باوروته کړځکه خلکولیدل چي دروسانوپه واسطه قدرت ته رسیدلي و، له اسلام سره ددښمني په بنايي دویتولنبتي ویجول او گردهیوادیي په شاړه بدل کړ . نجیب که خپل توراوکرغیرن مخ په بوخروارصابون هم پريمنځي بیاهم نه سپینیږي .

حقیقت دادي چي دنجیب هراقدام بایدهغه یوطبیعي مجبوریت وگڼل شي ځکه هغه ورځ په ورځ کمزوري کیږي اودگوند اودولت په سطحه له نوبو ستونزوسره مخامخ کیږي . دنجیب یوه عمده ستونزه خوپه سرکي له خلقیانوسره دهغه اختلافات اودښمني ده حال داچي دخلق ، پرچم (وطن ) په گوند کي اکثریت خلقیان تشکیلوي . دپرچم گوند هم هغه دیومتفق علیه مشر په توگه نه مني ځکه روسانودیوه ضرورت له مخي بیرك جبراً دجمهوري ریاست له چوکي نه راکوزکړ اونجیب يي په دي اسره په گدي کیناوه چي دافغانستان پښتانه قبایل په دي وغولوي چي هغه دي یوپښتون په افغانستان کي واکمني ته ورسید نوپکاروه چي له هغه سره هرارخیزه مرسته وشي اوپالږ ترلږه خومخالفت اوحساسیت وروسره کم کړاي شي ، خولکه چي جوته شوه روسان هم پخپل دي گومان کي له لويي سهوي سره مخامخ شول ځکه افغان جهاد نه دکوم نژادي اختلاف پربنا پیل شوي و اونه دکوم ژبني بلکي جهاددیوي عقیدي او له کمونیزم سره ددښمني پربنا پیل شوي، نوترڅوپوري چي په افغانستان کي کمونستان اوروسي برښخي په قدرت کي وي دهغوي دراپرځولو لپاره به زموږ مقدس جهاددوام لري .

زموږ مؤمنو خلکو لکه څرنگه چي دنجیب وروميني څرگندوني هسي باهیزه وگڼلي دا اوسني هغه يي هم ورته هسي دیوسو بادول ښکاري . نجیب داااعلان ددي لپاره وکرچي له یوي خوادملگروملتو اونړیوالو کريدت واخلي اوله بلي خوا

په راتلونکي کي ځان اوخپل گوند حفظ کړي نجیب اوس له څوفشارونوسره مخامخ دي، یو خویي دخپل گوند اودولت په سطحه مخالفتونه دي چي څیني يي پخواني ريښي لري اوځینو ورته نوي سراپورته کړي . اوس پرچم گوند عملا دژبني تعصب پربنا په دووډلو ویشل شوي دي درژیم دملیشه و عمده برخه چي نجیب به پري حساب کاوه دنجیب په وړاندي عملا دهغه پرخلاف راپاڅیدلي دي لکه چي درشیددوستم جنرال جمعه اودسیدکیان دزوي پلوي ملیشه وتولو درژیم ( نجیب ) پر خلاف په اقداماتو لاس پوري کړي دي .

دي ملیشه ودډیري مودي راهیسي دسالنگ لویه لاره بنده کړي چي دنجیب پلوي ملیشي په دي ونه توانیدي چي دسالنگ لویه لاره دنجیب حکومت لپاره دحیاتي اهمیت وړ لاره پرانیزي چي په دي توگه يي کابل تر زیات اقتصادي فشار لاندي نیولي دي ځکه تراوسه لږي ډیري مرستي اوهغه هم غذايي موادومرستي چي له نجیب سره دمرکزي آسیادځینو جمهوریتونو یاروسیي لخواکیدي پرکابل ودریدي چي په دي توگه ورځ په ورځ کابل ته بوازي دخوراکي اوتوردارتیاوړشیانو له قیمتي سره مخامخ کیږي چي شدیده کاختي هم پري راروانه ده لکه چي داځوروونکي دمخه هم په کابل کي دوژیم پرخلاف ستري ستري مظاهري وشوي . اوس دکابل امنیت ورځ په ورځ دخرابیدو په حال کي دي ان چي رژیم دجمهوري گاردله برج سره ځنگ په ځنگ دافغان لوي پلورنځي دچوراوچپاول کیدومخه يي هم ونشوه نیولاي . دکیتي سنگي دغلي منهو ي چوریدل يي بله بیلگه ده . نجیب حتي پخپلو ماموریتوهم کوپون قطع کراودهغه په بدل کي لږه اندازه پیسي ورکوي خواصلي خبره داده چي دکاختي هیڅ جبران نشي کولاي اوهغه هم په داسي حال کي چي پرکابل ورځ په ورځ دیوځي اواقتصادي کلابندي کړي تنگیږي . دکابل موجوده سیاسي حالت دنجیب پرضددیوپوځي بغاوت اویادکابل ښارداوسیدونکو دعمومي پاڅون امکان هم نشي ردولاي .

له بل پلوه دنجیب ورځ په ورځ کمزوري کیدل اودهغه پرضد په داخل کي دمخالفتونو راولاړیدل اوځواکمنیدل، مجاهدینو ته هم دامجال ورکوي چي دنجیب دسقوط لپاره گړندي گامونه واخلي لکه چي همدااوس دهیوادپه شمال کي ستري ستري سوبي دمجاهدینو په برخه شوي اوحتي چي دمزارشریف ښار دمجاهدینو لاس ته ورغلي چي په دي توگه گورو چي دمجاهدینو دفتوحاتولمن پراخیږي اودنجیب داقتدار ، نه بوازي داقتدارچي دژوند ورځي مخ په خټمیدودي . نوپه داسي یوحالت کي نجیب بله څه چاره لري پرته لدي چي دملگروملتوله طرحي سره مرسته وکړي چي څومره ژرکیدلاي شي عملي شي . نجیب اوس دملگروملتو دطرحي تطبیق دځان اوخپلواندیوالانو دنجات لپاره یوازني لاریولي اوهمداسي هم ده ځکه نجیب که هرڅومره دروغي جوړي چیغي ووهلي په اسلام يي تظاهروکړ خوهیچاهم باورنکړ، چي دنجیب توروزړه به سپین شوي وي . اوس دنجیب یوازني اسره ملگري ملتونه اودهغي ترشا امریکا ده ځکه خوبي خوروځي دمخه امریکاته هم خوله ډيره جینگه جینگه کړه چي له هغه سره دمسلمانانو دقدرت ته رسیدو دمخنیوي په لارکي مرسته وکړي .

اوس خبره داده چي دنجیب په دادول څرگندونو اوژمنو په افغانستان کي سوله منځته راتلاي شي ؟ نجیب داڅرگنده کړه چي په اصطلاح په بین الافغاني مذاکراتوکي به هغه نه بلکي دهغه دگوند نورغړي برخه اخلي . خبره داده چي مشکل یوازي په نجیب کي نه دي اونه یوازي دیوه کس په بدلیدو رابدلیدو خبره حل کیداي شي که داسي وي نوله تره کي نه راوخلي ترنجیب پوري خوډیري ډيري مزدوري څیري بدلي رابدلي شوي مگردافغانستان ددردلپاره درمان نشول . حقیقت دادي چي دافغان مؤمن ولي دښمني پرکابل دواکمني نظریي اوگوند سره ده . افغان ستونزه به هله حل کیږي چي پرکابل واکمن گوندداوپرځیږي اوترڅوپوري چي دوطن بدنام زمانه ، اسلام دښمن اوهیوادپلوري گوندله پښونه وي غورځول شوي زموږ مسأله اوستوزه نه اواریږي .

ملگري ملتونه هم که ریښتیا غواړي دافغان رېري داواري په جهت کي موثر گام پورته کړي نودیوي بي طرفي اداري په حیث دي قضاوت او عمل وکړي . زموږ مسأله په دي نه حل کیږي چي نجیب دي په مذاکراتوکي نه وي خالقیار، سلیمان لایق یاددوي په څیرنورکمونست عناصردي وي زموږمسأله په دي حل کیداي شي چي نجیب اودهغه وطن گوند دملت دقاتلینو په عنوان له هرډول مذاکراتونه تجریدکړاي شي . که عملي کیږي باید چي دمجاهدینو په طرح عمل وشي داعملي هم ده اومشکل هم پري حل کیداي شي .

که ملگري ملتونه اوس هم دخپلي طرحي په تطبیق ټینگارکوي نوبي ځایه به وي ځکه داطرحه خو لاپخوامجاهدینو ردکړي ده ځکه ددي طرحي ترشادلویدیځ استعمار ناولي لاس له ورایه ښکاري ، موږ دادومره قرباني دخپل هیواد دخپلواکي اوپه هغه کي دیوه سوچه اسلامي نظام درغاوني لپاره ورکړي دي نه داچي دسره ښکیلاك لاس دي لنډشي اودتوراستعمار لاس دي راوغځیږي .

موږله استعمارنه کرکه لرو، دبل چاواکمني نه منو اونه ديږديو دلاس لاندي ژوندکولو ته تیاريو نوپردي اساس دملگروملتوطرحه چي زموږدهیواددرښتیني آزادي اواسلامي نظام دمخنیوي په لارکي یوه خائنانه طرح اوپه حقیقت کي یوه دسیسه ده هیڅکله هم عملي نه گڼو . بنايي ملگري ملتونه دخپل پیل کړي پروگرام له مخي دکمونستانو ، غربیانو اوبي خاصیتوعناصرو یوه غونډه راوبلي اويادعبوري حکومت دتشکیل لپاره یوڅه بریکړي وکړي خوخبره داده ترڅوپوري چي زموږ دمؤمن ولس ملاترورسره نه وي هیڅوك هم زموږ په ملت حکومت نشي کولاي اوکه څوك دي ته زړه ښه کړي چي غرب به يي ترشا ولاړوي نوسره امپراتوري خوافغانستان ته ډيره نژدي اوگاونډي هیوادوکه داسي ديږديو په مرسته چازموږ پرولس حکومت کولاي شواي خونجیبیانو به کړي واي خودادي گوروچي نجیب فقط په کابل ښارحکومت کوي چي ته ده پرهغه يي هم واکمني ډيره ژرختمه شي .

اوس زموږ گردملت مسلح دي ددي له خوښي پرته که هرحکومت رامنځته کیږي په کلکه به يي مقابله کوي نوښه داده چي ملگري ملتونه هم خپل سازشي اقدامات اومنډي تربي پریږدي اویوه داسي لارغوره کړي چي هم عادلانه وي اوهم عملي .

دافغان قضیي دحل لپاره دکمونستانو ، غربیانو اوضعیف النفسوعناصرغونډي چي په جهادکي هیڅ رول نه لري زموږ دسولي مزل لنډوي نه بلکي اوږدوي يي .

## بررسي تحولات اخيردرشوروي سابق ، بعد ازکودتاي ماه اسد ۱۳۷۰

میرزا محمد روستايي

تابستاني اش رادر (کن بانك پورت ) قطع نموده وبه واشنگتن بازگردد.

رئیس جمهور امریکا دراولین واکنش ازشناسايي رهبران جدید شوروي خودداري کرد وازآنان خواست تامیخاییل گورباچوف را درمقامش بازگردانند. وي خاطرنشان ساخت که درشوروي دقیقا یك کودتا رخ داده وبرطرفي گورباچوف به هیچصورتي اقدام قانوني نبوده است.

درهمین حال دروزارت خارجه امریکا ستادبحران شوروي تشکیل شد تامرتب رئیس جمهور ، وزیرخارجه واداره امنیت ملي را درجریان تحولات شوروي قراردهد.

امریکا ، جاپان ، انگلستان ،آلمان ، فرانسه وبعضي کشورهاي دیگر برنامه کمکهاي خودرابه شوروي بحال تعلیق درآوردند.

جان میجر صدراعظم انگلستان گفت که گورباچوف بایك اقدام غیر قانوني ازکاربرکنار شده است. درحالیکه براي تغییر رئیس جمهور درشوروي راه قانوني وجود دارد که بدور ازشیوه کودتا ست . اما وي اظهار امیدواري کردکه برکناري گورباچوف بمعني بازگشت به جنگ سرد نباشد.

مارگرت تاچر صدراعظم سابق انگلستان درواکنش به این تحول ازمردم شوروي خواست که به عنوان اعتراض به جاده ها بریزند. وي ضمنا تاکید کرد کهانگلیس وناتو باید دربرنامه کاهش بودجه دفاعي خودتجدید نظرکند.

توشیکي کایفو صدراعظم جاپان بعدازتشکیل جلسه کابینه گفت که اصلاحات در شوروي ادامه خواهد یافت.

ناتوازاحتمال بازگشت شوروي به سیاست هاي گذشته ابرازنگراني کرد.

مانفرو دوترتر دبیرکل ناتوگفت که برکناري گورباچوف باعث نگراني شدید غرب شده است.

فرانسوامیتران رئیس جمهورفرانسه ازرهبران وضعیت اضطراري شوروي خواست که امنیت جاني گورباچوف ویلتسین راتضمین نمایند. وگفت که این امر براي دولت فرانسه اهمیت بسیار دارد.

میتران اظهار داشت که برکناري گورباچوف مي تواند روند دموکراتیك رادر شوروي مختل کند ولي قادر به متوقف کردن آن نخواهد بود . وي همچنان خواستار تشکیل اجلاس سران جامعه اروپا دربررسي تحول شوروي شد.

خاویرپریزدکوئیار سرمنشي سازمان ملل متحد درصحبتي که درمقرآن سازمان داشت گفت:

داوري درباره دولت جدید شوروي هنوز زوداست ولي امیدواریم که برکناري گورباچوف به خانه جنگي درشوروي منجر نشود ، موصوف همچنین گفت آرزومنداست این تغییر در روند دموکراتیزه کردن اروپاي شرقي نیز تاثیري نداشته باشد.

چین ، سوریه ، الجزایر وبعضي ازکشورهاي اروپاي شرقي واکنش رسمي نشان ندادند چکوسلواکیا مرزهایش رابا شوروي تقویت کرد.

لخ والسا رئیس جمهور پولند (لهستان ) بانگراني شدید ازبرکناري گورباچوف ،مقام هاي امنیتي کشور را به ملاقات فوري دعوت کرد.

وزارت خارجه بلغاریا گفت که از خبر برکناري گورباچوف سخت تکان خورده است .

باوجودي که کلاً فلسطینیان ازسقوط گورباچوف خوشحال بودند . ولي درعین زمان سازمان آزادیبخش فلسطین ابراز امیدواري کرد که برکناري گورباچوف بویژه این امکان رابوجود آوردکه مسئله مهاجرت یهودیان شوروي با اسرائیل حل شود.

ایران ، پاکستان وهندوستان محتاطانه عمل نموده واین تغییر را یك مسئله داخلي شوروي وانمود ساختند.

حکومت کابل درجریان کودتا دریك سردرگمي کامل فرورفته بود. اما رهبران مجاهدین افغانستان تغییرات وارده برشوروي را به هیچ حساب نکرده وبه ادامه جهاد مسلحانه تاکید کردند ، استاد برهان الدین رباني رهبر جمعیت اسلامي افغانستان دراولین واکنش اش نسبت به برکناري گورباچوف ازرهبران جدید شوروي خواست تابه مداخله درامور داخلي افغانستان پایان بخشند ، صبغت الله مجددي رهبر جبهه نجات ملي افغانستان نیز درمصاحبه تلفني که باراديو بي بي سي داشتند ،گفتند : ماازوقوع کودتا درشوروي مایوس نیستیم زیرا سیاست نادرست گورباچوف درحمایت ازرژیم مزدورش تاکنون ادامه داشت ،بهروصف ما طرفدارمذاکره سیاسي بادولت شوروي ( هردولت که باشد )هستیم وسنگرهاي جهاد را نیز گرم نگه خواهیم داشت.

خبرنگاران غربي دراولین گزارشات شان ازمسکو گفتند که هیچ قدرتي درشوروي قادرنیست که کشوررابااستبداد واوضاع ماقبل ۱۹۸۵ م سوق دهد ومیباید منتظرعکس العمل سایرجمهوریت ها درقبال این تغیرات باشیم.

معمرالقذافي رئیس جمهور لیبیا در پیامي براي گنادي یونایوف رهبرکودتا ،برکناري گرباچوف رایك اقدام تاریخي وشجاعانه توصیف کرد.

یك سخنگوي عراق از تغیرات درشورويابراز خرسندي کرد وگفت : برکناري گورباچوف به برقراري موازنه بین اللللي کمك خواهد کرد.

ایازمطلب اوف رئیس جمهورآذربایجان عملا ازکودتاپشتیباني نموده وخواستار حمایت ازآن شد.

همچنان تندروان کمونیست درچین ،شاخه مارکیست حزب کمونیست هند ، حزب کمونیست یونان وبعضي گروه هاي دیگري کمونیستي در گوشه وکنارجهان ازوقوع کودتا در شوروي استقبال نمودند .

۵ - علت شکست کودتا:

کودتاي که بدست افراطیون کمونیست براه‌افتیده بود، بعدازگذشت سه روز، بتاریخ ۳۰ر۵ر۱۳۷۰ به شکست مواجه گردید، وگورباچوف بعداز۷۲ ساعت توقیف در جزیره سیاه آزادشد. شکست کودتا در شوروي بستگي به عوامل زیادي دارد که ازآنجمله میتوان عوامل ذیل رانام برد.

الف : حضورومقاومت مردم درصحنه علیه کودتاگران .

ب : اعراض K, G,B وارتش ازسرکوبي مخالفان .

ج : استعفاي دیمیتري یازوف وزیردفاع وولادیمیرکریوچکوف رئیس K.G.B ازعضویت کمیته اضطراري.

د : حرکات برنامه اي وقاطع بوریس یلتسین رئیس جمهور فدراسیون روسیه درتحریك مردم وارتش بمنظورمقابله باکودتا.

هـ : عدم حمایت جهان خارج ازکودتاچیان .

و : تهدید وارعاب غرب مبني برتحریم اقتصادي علیه کودتا گران .

صاحبنظران ومبصرین امورسیاسي ،هرکدام از زاویه دیدشخصي خود یك علتي رابعنوان علت اصلي ومحوري درسرنگوني کودتا ابراز نموده اند اما از دیدبنده مهمترین محرك اصلي درشکست کودتا ،مردم شوروي بوده است ، همین مردم بودند که بانادیده گرفتن حالت فوق العاده حکومت نظامي ، باحضور گسترده خود در سرکها ومیدان ها بادفاع از پارلمان ودیگر نهادهاي دولتي ،علیه کودتاگران صف آرايي کردند ، آنها که سالهاي سال طعم اختناق ودیکتاتوري را چشیده بودند وزخم هاي ناشي از ظلم واستبداد دوره نکبتبار ستالینستي رابدوش داشتند به هیچ صورتي حاضر نبودند دوباره به عصردیکتاتوري واستبداد برگردند . آنها دیگرباشنیدن این صداکه کودتاگران ، کمونستهاي قدیمي اند ومیخواهند روند تغیرات درشوروي رابه عقب برگردانند ، تعللي نکردند وفورا دست به خشونت وتظاهرات زدند.

آنها(مردم ) کوچکترین وقعي به وعده وعید کمیته کودتاچي نگذاشته وکدام ارزشي هم به مغازه هاي پرازمواد خوراکه شان ندادند ، رهبران کودتا به این خیال بودند که اگر کمبود ارزاق عمومي علاج شود وعرضه مواد ارتزاقي را دربازار افزایش داده وباکنترول توزیع نمایند ، شاید در آرامي ومهارکردن مردم موفق گردند ولي این تلاشهاي دیگرکارگرنه افتاد وابنمردمي که حاضر به گرسنگي وپارچه شدن زیرتانکها بودند ، ثابت ساختند که آزادي رانسبت به نان دوست دارند. همچنان زیر بار نرفتن K.G.B وارتش نیز در شکستن کودتا نقش بسزاي داشت ارتش K.G.B بخوبي میدانست که اگربامقاومت شدید وریختاندن خونهاي زیاد ، حکومت کودتا استقرار یابد حکومتي که نه مردم رادارد ،نه امکانات اقتصادي ومالي ونه پشتوانه خارجي ، پس آن حکومت چه ارزش ومعني اي میتواند داشته باشد. K.G.B وارتش این نکته رانیز درك کرده بودند که جلوي روي گورباچوف هم ،خاطرسیدن به اهداف فوق فقط یك بن بست که آن بن بست مارکسیسم است وجود دارد ، لذا هرکه بخواهد زمام امور کشور رابدست گیرد باید ازاین بن بست بگذرد ،بنا بااین دلایل از پشتیباني جبهه کودتا چیان خوداري نمودند.

یك نکته رابابد یادآوري نمایم که این خیزشها و شورشگریهاي مردم که درقدم نخست ،شگاف درجبهه کودتا بوجود آورد ،نسبت محبوبیت گورباچوف میان نبود

ادامه دارد

# کشورهای نوآزادآسیای میانه ودنیای اسلام

سیدغلام فاروق "وحدتیار"

شایدهمه اطلاع داشته باشندکه چندي قبل کنفرانس کشورهاي شامل سازمان کمك هاي اقتصادي به سطح سران کشورهاي مذکور درتهران منعقدګردید. درین کنفرانس به پنج جمهوریت مسلمان نشین نو آزاد روسیه شوروي عضویت سازمان مذکورداده شد درحالیکه به کشورششمي یعني قزاقستان اجازه داده شدتابحیث مبصر در جلسات این سازمان شرکت ورزد .

به این ترتیب اولین ګامي براي پیوستن کشورهاي نوآزادآسیاي میانه باجهان اسلام برداشته شد .

ګرچه درین جمهوریت هاي اسلامي نوآزاد حاملین افکاروایده هاي مختلف وجود دارند ودولتمردان آنهاراعموماً کمونست هاي تشکیل میدهندکه ازهفتادسال به این طرف به زور وجبر بالاي مردم مسلط کرده شده اند، احزاب وګروه هاي حامي سیکولریزم وناسیونالیزم هم وجود دارند واحزاب اسلامي هم رویه فعالیت دیده مي شوند . لاکن باوجوداین همه عوامل افتراق وجدایي، چیزیکه همه اقشاروطبقات جوامع این کشورها آنرامي پذیرند ورروي آن پافشاري مي نمایند همانا استوار نمودن روابط سیاسي، اقتصادي و فرهنګي بادنیاي اسلامست .

به نظرآنهااولین ګام مؤثر درین رابطه پیوستن این کشورها به کنفرانس سازمان سران کشورهاي اسلامي (O.C.I) وسازمان همکاري اقتصادي (E.C.O) مي باشد . چنانچه بعدازحصول وکسب عضویت سازمان همکاري اقتصادي ازطرف کشورهاي مذکوراکنون آنها تلاش دارند تابه عضویت کنفرانس سازمان سران کشورهاي اسلامي نیز نایل ګردند وبه این ترتیب کاملا جزدنیاي اسلام شوند .

دردسامبر ګذشته یعني زمانیکه روسیه شوروي بکلي مضمحل ګردید وکشورهاي مسلمان نشین آسیاي میانه به استقلال وآزادي خودنایل ګردیدند من ( نویسنده ) سفري داشتم بصوب این کشورها، درین سفر بادولتمردان ورهبران اقشاروطبقات مختلف این کشور هاملاقات هانمودم که درآن میتوان ازاسلام کریموف رئیس جمهورازبکستان ، نذرالله دوستوف معاون رئیس جمهورتاجکستان ، محمدصادق مفتي اعظم تاشکند، منشي عمومي حزب سیکولرازبکستان، رهبرحزب ناسیونالست برلك ( آزادي ) عبدالله اوتاه رهبر نهضت اسلامي بخش ازبك ها، محمدشریف رهبرنهضت اسلامي بخش تاجکستان ، معاون حزب سیکولر تاجکستان ، رهبر حزب ناسیونالست رستاخیز تاجکستان وسران سیاستمداران و علماي قزاقستان وآذربایجان نام برد .

ګذشته ازافکارونظریات شخصي واختلافات باهمي افرادمذکور ، چیزیکه درمیان همه آنهامشترك به نظرمي خورد این بودکه به عقیده آنهانخست باید بادنیاي اسلام روابط استوارکردودرقدم دوم به سراغ سایرممالك رفت . زیرا چه ازنګاه قرب جغرافیایي وچه ازلحاظ مذهبي، تاریخي ، نسلي ولساني دنیاي اسلام بردیګرکشور ها درین رابطه ارجحیت دارد .

درمیان کشورهاي اسلامي هم به اساس مرزجغرافیایي، اشتراك تاریخي ولساني به ترکیه ، ایران وپاکستان نسبت به همه بیشتر اهمیت قایل بودند .

اسباب وعواملي راکه باعث شد تااین کشورها درقدم اول دربي استوارنمودن روابط باکشورهاي اسلامي ګردند میتوان دردوچیز خلاصه کرد .

اول اینکه زماني سران سه جمهوري روسیه شوروي ( بلوروسیه ، یوکراین ، فدراسیون روسیه ) درمنسك مرکز بلوروسیه بتاریخ هشت دسامبر ګذشته تشکیل جلسه داده ، طي آن اضمحلال روسیه شوروي وتشکیل سازمان مشترك المنافع جمهوریت هاي آزاده شده را اعلان کردند، درین جلسه نه تنها سران جمهوریت هاي مسلمان نشین ویانماینده آنهاحضورنداشت ،بلکه ازآنهادرین موردمشوره هم ګرفته نشده بود .

حتي به سلطان نذربایوف که یکي ازشخصیت هاي مهم وبرجسته چهارګانه اتحاد کشورهاي روسیه شوروي بشمارمیرود زماني راجع به این جلسه اطلاع داده‌شد که وي دررابطه بکدام بخش تشکیل اتحادیه مذکور به تاریخ هشت دسامبر ازطیاره به ماسکو فرودآمد. این خبرنه تنهابراي وي فوري وآني جلوه دادبلکه دراواین احساس رابیدارکرد - که سران سه کشورروسیه شوروي ( بلوروسیه ، یوکراین ، فیدراسیون روسیه ) بنابراشتراك مذهب ( آرتودوکس ) ونسل ( سلاویك ) دورهم جمع ګردیده بدون اشتراك دیګران سرنوشت جمهوریت هاي نوآزادروسیه شوروي را تعین نموده اند. کشور هاي مسلمان نشین نه تنها فراموش ګردیده اند، بلکه براي آنهااطلاع قبلي هم داده نشده است چنانچه عکس العمل نذربایوف درین رابطه چنان بودکه وي حاضرنشد روي چنین فیصله بي فوراً وآناً صحه بګذارد، بلکه تصمیم خودرابه مشوره باسران سایرکشورهاي مسلمان نشین موکول نمود .

ازشخصیتي چون نذربایوف که تمام عمرخود را به خدمت کمونیزم وقف کرده بود چنین عکس العمل ګویا اولین اظهارمحبت وهمبستګي بااسلام بشمارمیرفت .

چنانچه مي بینیم که وي زماني ازتشکیل سازمان مشترك المنافع جمهوریت هاي روسیه شوروي توثیق بعمل آوردوشمولیت خودرا درآن اعلان داشت که باسران سایرجمهوریت هاي مسلمان نشین بتاریخ یازده دسامبردرعشق آباد مرکز ترکمانیه وبتاریخ بیست ویك دسامبردرآلماآتاتشکیل جلسه داد .

بهمین ترتیب سلطان نذر بایوف طي بازدیدش ازهند نیز تقریبا به همین نوع یاس ونا‌امیدي برخوردکه درنتیجه قبل ازپوره کردن معیادسفرش هند رابقصد پاکستان ترك ګفت ووارداین کشورګردید.

انګیزه دومي که باعث شدریاست هاي نوآزادمسلمان نشین نخست ازهمه درصدد برقراري روابط اقتصادي ، فرهنګي وسیاسي بادنیاي اسلام شود، همانانحوه برخورد وروش امریکا وغرب بااین کشورهابود .

زمانیکه جمیزبیکر وزیر خارجه امریکا یك هفته بعداز اضمحلال روسیه شوروي بتاریخ شانزده دسامبر وارد ماسکوشد تمام سران این جمهوریت هاي آزادشده توقع داشتندکه وي بحیث نماینده یګانه نیروي بزرګ جهاني باآنها ملاقات نماید ووعده هرنوع کمك به آنهابدهد .

لاکن جمیزبیکرازمیان ریاست هاي مسلمان نشین صرف ازقزاقستان وقرغستان دیداربعمل آورد . وآن هم بخاطریکه درقزاقستان سلاح اتومي روسیه شوروي جابجاګردیده بود وباوجودیکه نذربایوف یك کمونست سرسخت است و هیچګاه بطرف اسلام واحیاي آن تمایلي ازخود نشان نداده است ولي درهمان روزها دراخبارها وجراید ماسکو ودرګفتګوهاي عام چنین تشویش ونګراني اظهارمي ګردیدکه دنیاي اسلام درقزاقستان بم اسلامي یافتند . جمیزبیکرفقط مي خواست همین تشویش ونګراني خودرارفع کندبه همین علت وارد آلماآتا شد .

وانګیزه سفربه قرغستان این بودکه چون این کشورهم همرزباچین است ازین لحاظ امریکا به آن اهمیت میدهد، وبه همین ترتیب اګرکمي توجه بطرف آذربایجان هم صورت مي ګیرد نه بخاطر اسلام است بلکه چون میاناآذربایجان و ریاست عیسوي نشین ارمنیا برسر ناګورنوقره باغ کشمکش وجود دارد وغرب وامریکامي خواهند که این معضله رابه نفع عیسوي هاي خود فیصله نمایند. لهذا ناګزیرباید باآذربایجان هم رابطه داشته باشند. ګویا امریکادنبال منافع خود میرود وجاییکه منافع وي تقاضا کند دیګرهمه چیزرا فراموش مي کند .

این عوامل سران ریاست هاي نوآزادمسلمان نشین رابیدارکردکه امریکا وحواریونش مي خواهند روابط خودرانخست بامناطق اروپایي وعیسوي مذهب روسیه سفید ، یوکراین وفدراسیون روسیه استوارنمایند ویا آنهاهرنوع کمك هاي اقتصادي ومالي نمایند. درحالیکه باکشورهاي مسلمان نشین باآنهایي روابط استوارمي نمایند که منافع فوري وآني شان تقاضا مي کند .

همین احساس درمیان ګروه هاي برسراقتدار درازبکستان ، تاجکستان ، ترکمنستان ، قزاقستان ، قرغزستان وآذربایجان این شعوروجذبه رابیدارکردکه نخست ازهمه باید روابط اقتصادي ، سیاسي وفرهنګي خویش را باکشورهاي اسلامي همسایه استوارنمایند وآنهارانسبت به امریکاواروپاترجیح بدهند. ګرچه آنهانمي توانند روابط خویش رابکلي ازدنیاي غرب وروسیه قطع نمایند .

روي همین وجوهات زمانیکه هئیت پاکستاني درماه دسامبرګذشته ازجمهوري هاي مختلف نوآزاددیدن نمود سران ګروه هاي حاکم درهمه کشورهاي مذکوراظهارداشتند که حاضرندروابط همه جانبه باپاکستان استوارنمایند . ص ٤

# دیموکرات شوچي واردد واشنګټن شو

سباوون مومند

ورشچاري اواین الوقت نجیب چي ولیدل چي توربي داقتدار شپي ورځي دشماراو په نژدي راتلونکي کي دخپلو اعمالو په شامت رسیدونکي دي، نو دمسکوپرځاي بي واشنګټن دخپلو خوشوامیدوډپالني قبله وټاکله .

مزدورنجیب دامریکایي مقاماتودپام راړولو له پاره دخپلو نویو چلوټواولوڅوپوڅوبه لړکي، دغلته دپنستیپالي دخپلو پرضرورت ټینګارووکړ، چي هسي نه دآمرله غاړومورګو داسلامي تحریك د څپان پروورتیریدو دمنځني آسیادنویو خپلواك شویو جمهوریتوپنستپالي اسلامي غورځنګونه زورواخلي اودافغانستان ، پاکستان ، ایران اوترکیي اوبیا وروسته دعربي هیوادوبه ګډون بوبیاوري کفرځپونکي پوځي پکټ اوبلاك رامنځته کړي .

نجیب چي پوهیږي چي امریکایي ښکیلاکګردګنواسلامي هیوادو ددغسي یوه پیاوړي پوځي څواك رامنځته کیدل خولاڅه چي دیوه هیواد دڅته هم دیوه ریښتیاني اسلامي حکومت جوړیدل نشي څغملاي ، لکه همدااوس اوس بي چي دالجزایر داسلامي ژغورني دجبهي پرخلاف خپلو منډري پرغوړمریبوته قومانده ورکړي ، اوبیابي پرون دایران داسلامي انقلاب پرخلاف دالس دولس کاله په ارت مټ دسیسي او پیبسي وکارولي تودامریکایي ښکیلاك دمرستو اوکومکو دجلبولو له پاره بي دافغاني جهادي تنظیمودځپني ضرورت ته ګوته ونیوله ، چي که له دي لاري خپل ژوندیو څه اوږدکړي .

اوس، نجیب ته یواځي اویواځي خپل پایښت اوبقا مطرح ده اوبس . داچي څوك داکار پرغاړه اخلي، داورته ارځښت نلري !!

اوګه سمه خبره وکړو، نجیب خواوس دغلامي اوبندګي خوي اخیستي ، دي باید هرومرو یوچاته کرنش اوتیټ وپاس وکړي . اوداقبال (رح) په قول په دي کارسره بي له څناورتوبه هم ورتیرشویدي . لکه چي وایي :

یعني ازخوي غلامي ، زسګان پست تراست

من ندیدم که سګي، پیش سګي سرخم کرد

اویادبیدل (رح) داویناچي :

سګ چاکرسګ نګشت وخرینده خر .

خودنجیب غوندي یوڅوك چي ډیره موده دغلامي په خوي ویایي، نوبیابي نوکري اوچاکري دویم فطرت اویوته بدلیدونکي عادت وګرځي . اخیر، رواني انحرافات چي دناوړه اجتماعي شرایطو په ترڅ کي وده مومي، هیڅوك هم دمورله ګیدي له ځانه سره نه راوړي .

غلامي اوچاکري هم دسادیزم، ماشوکیزم اونورګنو انحرافي رواني ایزمونو په څیر یوداسي موذي رنځ دي، چي یوځل پري څوك اخته شوي، بیا تري په الاسانه نه دي بچ شوي .

له همدي ځایه ده چي نجیب دمجاهدملت غیرته دراستنیدو پرځاي داغوره ګڼي چي پردیوته سرتیټ کړي که یووخت بي بریژنیف ، یوف ،چرنینکو اوګورباچوف "ملګري" بلل اودهغوي په نوکري به ویاریده ، نن بوش ته په دکه خوله " جناب بوش " وایي ، اودنوکري سینه بي ډبوي .

خودغلام نجیب لکه چي دیته نه وي پام شوي چي افغان مجاهداولس اونوره اسلامي نړي لاروس دومره بدنه ګڼي، لکه داسرائیلي ، تاجایزدولت رامنځته کوونکي امریکایي حکمرانان بي چي بدي شي . ځکه ، هغوي همدانن هم دخپل نوي نړیوال ښکیلاکي نظام دپلي کولو اوانځورني په لارکي اسلام ډیر سترخنډاومانع ګڼي، اوله همدي لامله بي دعربي او نوري اسلامي نړي ځپني ته ملاترلي ده ، عراق بي په مرګ وتکاوه ، لیبیا ته بي سترګي برندي کړي اوپاکستان بي داسلامي بم دجوړولو په تورترګواښ لاندي نیولی دي . چي لادګردي مستضعفي نړي استضعاف ته بي هم کلکي بدي راوهلي ، نوردغسي یوه ښکیلاکي څواك حاکمانو ته خوشامندي اوځګجکي کول بي له دي چي دنجیب په چاکرمنشي حمل شي، بل څه تعبیر بداي شي ؟!

اخیر دنجیب اودهغه دبي ضمیره اندیوالانو هغه دانقلابي توب ستري ستري دعوي څه شوي ؟! نجیب چي په زیاتره مظاهروکي به بي داشعره برواېه چي: اي کارګرانو اوبزګرانو ماستاسي دخدمت ژمنه کړي، که زه په خپله دي ژمنه کي پاتي راشم ، تورومي وژني اوغوښي مي هم شپوته واچوي ، اوس ولي امریکاته دځګجګیو پرځاي خپلي غوښي پرسیبونه خوري !!

خومعلومه داشوه چي نجیبیان له اسلامیت سره سره له افغانیت څخه هم بیخي کنګال اوبه ریښتیا دپردیو منډري پرغوړمریبونه دي .

اوس داګورو چي امریکایي واکمن به دمزدور اوچاکرنجیب دغه غوښتنه څه ډول ورته استقبال کړي اوبه څه نظریه ورته وګوري ؟! په لومړي نظرخوداسي برېښي چي امریکایه دنجیب دغي غوښتني ته څه ارځښت ورنکړي او غوبونه به پري کانه واچوي، لکه ددي څوورځو دامریکاغږوله تبصرواوراپوروچي څرګندیږي .

خوداناجاني به بي ترهغي وي چي په افغانستان کي دملګریوملتودهلوځلو په پرده کي دخپلي خوښي یونامسلمان اسلامي حکومت جوړکړاي شي، امریکایي واکمن خوداکللکه هڅه کوي چي دملګریوملتو دپنځه نکته یي پلان په چوکات کي دافغان ربړي داواري له پاره یوه داسي دحل لارپیداکړي چي زموږدساوواسلامي انقلاب ساووتوب اواصالت پري ژوبل کړاي شي. اوځکه خوترکابل رادیو زیات دامریکاغږاوېږي، بي ، سي بناغلي ! مري پرسوي ، اودافغان ربړي دسیاسي حل دنبګړو پرشمیرلو ځانونه ستړي کوي .

دامریکا براړیني اوستره هیله داده چي زموږپرېره اوانقلاب په یوه داسي توګه پاي ته ورسوي ، چي داصالت له ژوبلیدوسره سره بي ، هغه هم پکي بدنامه نشي .

